يعنې څنګه چې په ښځو باندې د خاوندانو حقونه ادا کول واجب دي هم داسې په خاوندانو باندې هم د ښځو حقونه ادا کول لازمي دي- (1)

## د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک

خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: په خلقو کښې بدترين کَس هٰغه دے کوم چې په خپل کور والؤ باندې تنګي کوي، عرض وکړے شو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! تنګي کولو والا څنګه تنګي کوي؟ اوئې فرمائيل: چې کله هغهٔ کور ته داخل شي نو د هغهٔ ښځه د هغهٔ نه ويريږي، د هغهٔ بچے تښتي، څنګه چې هغهٔ د کور نه بهر ووځي، د هغهٔ ښځه او نور کور والا خوشحاله شي (لکه چې د هغوئي د سر نه څهٔ مصيبت لرې شوے وي)- (2)

## د ښځې درې حقونه

د انسان په اهمو رشتو کښې د ښځې او د خاوند رشته هم ده، اِسلام د ښځې او د خاوند ډير حقونه بيان کړي دي، د کومو ادا کول چې ډير ضروري دي چې بعضې وخت د ښځې او د خاوند د يو بل د حقونو د خيال نهٔ ساتلو په وجه کور ماتيږي، نن به مونږه د ښځې د دريو حقونو د زده کولو سعادت حاصلوو-

**وړومبے حق:** مهر ادا کول

**وضاحت:** مهر ادا کول واجب دي- په قرآنِ کريم کښې دي:

| | |
|---|---|
| فَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ فَرِيْضَةً ؕ (پاره:5، سورۃ النساء :24) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: [نو] د هغوئي مقرره مهر هغوئي ته ورکړئ- |

د مهر کم نه کم مقدار 10 درهمه يعنې دوه تولې، اووه نيمې ماشې سپين زر يا د

1... تفسير خزائن العرفان ، پاره:2، سورۃ البقره، تحت الآيت :128-

2... معجم اوسط ، جلد:6، صفحه:687، حديث:8798-

دې قيمت دے، [1] د سپينو زرو قيمت کميږي او زياتيږي، ځکه پۀ قيمت کښې د هغې ورځې لحاظ دے پۀ کومه ورځ چې نکاح شوې وي، مثلاً پۀ 10 اپريل کال 2025 د سپينو زرو قيمت: د تولې پۀ سر 3161 روپۍ دے- پۀ دې لحاظ سره به د مهر کم نه کم مقدار تقريباً 8298 روپۍ جوړيږي-

**دويم حق:** نفقه (يعني خرچه) ورکول

**وضاحت:** پۀ نفقه کښې درې خيزونه شامل دي: ❀ خوراک څښاک ❀ جامې ❀ او د اوسيدو د پاره کور- [2] پۀ کال کښې دوه جوړې جامې ورکول واجب دي- [3] او د ښځې د اوسيدو (يعني کم از کم د بيلې کمرې) انتظام هم د خاوند پۀ ذمه واجب دي- [4]

**دريم حق:** اَمۡرٌ بِالۡمَعۡرُوۡفِ وَنَهۡیٌ عَنِ الۡمُنۡکَر (د نيکۍ حکم کول او د ګناه نه منع کول)

**وضاحت:** د ښځې پۀ حقونو کښې دا هم دي چې خاوند به هغې له ❀ د نيکۍ دعوت ورکوي ❀ او د ګناه نه به يې منع کوي، هغې ته به ❀ د نمونځ ❀ د روژې ❀ د قرآنِ پاک د تلاوت وغيره د نورو نيکو کارونو حکم کوي ❀ د بے پردې کيدو وغيره د ګناه د کارونو نه به يې منع کوي- پۀ قرآنِ کريم کښې دي:

| | |
|---|---|
| يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا قُوۡۤا اَنۡفُسَكُمۡ وَاَهۡلِيۡكُمۡ نَارًا<br>(پاره : 28، سورۃ التحريم :06 ) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اے ايمان والؤ! خپل ځانونه او د خپل کور کسان د هغه وور نه بچ کړئ- |

خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: سړے د خپل کور والؤ نګران دے، د دۀ نه به د دۀ د کور والؤ پۀ باره کښې پوښتنه کيږي- [5]

1... فتاوی رضويه ، جلد:12، صفحه:162، ملخصاً-
2... بهار شريعت ، جلد:2، صفحه:260، ملخصاً-
3... بهار شريعت ، جلد:2، صفحه:266 -
4... بهار شريعت ، جلد:2، صفحه:260، ملخصاً-
5... بخاری ، کتاب الجمعه ، باب الجمعة فی القری والمدن، صفحه:274، حديث:893-

